پاکیزه ارزو ۲۰۲۲/۰۴/۱۸

د ښادۍ سندرې

دا به مبالغه نه وي که ووایو، چې د نړۍ او سیمې په شفاهي ادبیاتو کې پښتو شفاهي ادبیات د خپلو ځانګړو ځانګړتیاوو له امله تر ټولو بډایه شفاهي ادبیات دي، چې دغې بډاینې عامل د پښتنو مېرمنو فطري هنري ذوق دی.

په افغاني ټولنه او په ځانګړي ډول په پښتنه ټولنه کې د بېسوادۍ تور داغ پښتنو مېرمنو په خپلو ذهنونو، خیالونو، فکرونو او خولو باندې نه دی لګولی، بلکې دغو نالوستو مېرمنو په خپل فطري او هنري ذوق د خپلو سویو احساساتو پرمټ په شفاهي ډول داسې پنځونې پنځولې چې ساری یې د نړۍ په ادبیاتو کې نه شو موندلی.

لنډۍ، کاکړۍ، سروکې، ساندې. ناري، پړاکۍ او د ښادۍ سندرې هغه شعري کالبونه دي چې پښتنې مېرمنو خپل هنري ذوق پکې ځلولی دی. دغه ټول شعري کالبونه ځانته جلا ځانګړنې لري، خو زه د دغو ټولو کالبونو په خصویاتو نه غږېږم، یوازې د ښادۍ سندرې او د ښادیو سندرو یوه برخه چې په ځینو سیمو کې کنځاکۍ هم ورته وایي د بیلګې په توګه را اخلم.

د ښادۍ سندرې بیل بیل ډولونه لري دغه خاصې د واده د مراسمو سندرې د دغه سندرې په دوو برخو ویشل شوي دي. یوه ډول د خوښې سندرې دي چې بابولالي د یوې برخې په توګه را ځي چې زیاتره د هېواد په سهیلي سیمو کې د واده په مراسمو کې ویلې کېږي. او بل ډول یې کنځاکۍ یا سندریزې ناندرۍ دي. د جوړښت له مخې دغه سندرې له دوو مسرو دریو مسرو او کله تر دې زیاتو مسرو څخه جوړې دي او لکه لنډۍ د خپل ساده جوړښت له امله په عام ولس کې ځانګړی ځای لري. چې له لومړنۍ هوکړې نیولې د کوژدې او واده په بیلابیلو مراسمو کې د پښتنو سیمو د بیلا بیلو دودونو له مخې د ښځمنو له خوا په ځانګړي لحن سره ویلې کېږي، لکه دغه سندره چې د مالګې یا لفظ د وړلو او کوژدې په مراسمو کې ویلې کېږي:

د زرو ډک منګی مې درور چپه یې نه کړې

پلانکی مې در لېږلی خپه یې نه کړې

په ټولیز ډول د جوړښت له مخې کنځاکۍ یوه بیت وي چې ۲۲ سیلابه لري چې هره مسره یې ۱۱،۱۱ سیلابه وي خو ځینې یې د دغې قاعدې لاندې نه راځي چې د مسرو او څپو شمېر یې سره برابر نه وي خو د موضوع له پلوه یو ډول دي. دغه سندرې ځینې قافیه والې دی چې له ځینو سره یې ردیف هم مل وي چې بېلګې دا دي:

زمونږ ناوۍ مه ژړا پردو ته

خیالې لور دې تللی دی ډولو ته

ښه شولې چې خپلو تربور نه کړلې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پلانکی درته ولاړ دی مونږه سپره کړلي

ځيني يې غير مقفع دي چې د مسرو وزن يې سره برابر نه دی او د شعريت له مخې دېرې ساده دي.

که تول ده دا تول زموږ قبول دی

اتلس دې بېرته يوسه کېنخاب زموږ دستور دی

ګل غونچې غونچې ګل ولاړ په دربچې

د پلانکي داسې سپنږې دي لکه چترې کښاوې

کنځاکی په ځينو سيمو کې د کنځلو په نوم هم يادېږي. د کنځاکيو موضوع په ټوليز ډول ګيلي، شکايتونه مينه ناکي ځوروني او په غېرمستقيم ډول د ځينو غوښتنو پورکول دي چې د کنايې په ډول د زوم او ناوې د خپلوان به خاصه توګه د ښځينوو له خوا يو او بل ته ويلي کېږي. دغه مينه ناکي ناندرۍ کله کله په وادونو کې په يوې ګرمې مشاعرې واوړي چې دواړې خواوې يې د ګټلو هڅه کوي، خو ځيني وختونه په دغو ناندريو کې د کلام عفت ماتېږي چې په خفګان او جګړې اوړي.

د بيلګې په ټوګه په بيلابيلو مراسمو کې د دواړو خواوو تر منځ دغه ناندرېزې سندرې:

د ډوډۍ خوړلو په وخت کې:

زوم خيل وايي:

د سپينو وريجو څه شورما شور دی

موږ يې نه خورو چې خيال مو زور دی

د ناوې ورور دې وخوري چې شفتل خور دی

د ناوې خيلو ځواب:

شفتلګيو ګل ايستلی شفتلګيو ګل ايستلی

زموږ دسترخوان ډک دی اوس يې ولې زور درکړی

د زوم خيلو ځواب:

نوم دې په کابل کابل لکيږي

د غوښې دې درک نه مالومېږي

د ناوې خيلو ځواب:

وريجې غوښې نه خورو نازولې يو

مونږه د زمزم په اوبو وللې يو

همدارنګه د د دواړو خواوو تر منځ د زوم او ناوې د ښوالي د ښودلو دغه په زړه پورې ټوټې:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ناوئ مو کمکولئ ده خوښه مو نه ده

ونه يې د زوم تر زنګانه ده

ځواب د ناوې خيلو ځواب:

ميرزايي قدم راواخله قسمتونه دي

د زوم لايقه نه وې قلمونه دي

موږ داسې زوم درکړې

لکه تار د زر تار

ځواب:

موږ داسې ناوې درکړه

لکه ونه د چينار

همدارنګه د ناوې خپلوان د ناوې د وړلو په وخت د دغو کنځاکيو په ويلو سره د زوم خيلو لخوا ځورل کېږي:

ناوئ موږ سږ کال کله ودولې

ابا خو دې لمنې ګرځولې

زموږ ناوې چې ژاړي ګرمه نه ده

نن د پلار په کور کې ميلمنه ده

ناوئ په مخ دې اوښکې غټې غټې

د مور په زړه دې کېښودې سکروټې

موږ به ناوې يوسو له ډولو سره

تاسې خاورې باد کړې له ايرو سره

کنځاکئ نه يوازې په ودونو کې د ساعترئ لپاره ويلې کېږي بلکې د دغو ناندرويو په واسطه لوړمفاهيم د کنايې په ډول بيانېږي او لوړهنري ارزښت لري.

لکه د يوې پيغلې پيغلتوب او ناويتوب يعنې د پلار او خسر د کور د ژوند انځور په دې ټوته کې داسې بيان شوې:

سپينې پايځې مې مېلمنې دي

دا سرې پايځې مې د ټول عمر زولنې دي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په دغه توټه کې سپيني پايځې د پيغلتوب او سرې پايځې د ناويتوب لپاره استعاره شوې دي، په دې معنا چې هره پيغله نجلۍ د پلار په کور کې د يوې مېلمنې په توګه ژوند کوي چې بلاخره يوه ورځ وديږي او د خسر کور ته د تل لپاره وړل کيږي:

اوس به دې اميل داني داني کړمه

سبا به دې دا سپيني پايځې سرې کړمه

دغه سندره د ناوې د جوړولو او خپله خوښه په نکريزو د لاسونه نه سره کولو او سينګار په نه کولو دهمزلو له خوا د نکريزې په شپه ناوې ته اورول کيږي،چې په زور سره د ناوې دلاسونو د سره کېدو او سينګارولو انځور راښي.

څو نورې په زړه پورې بېلګې دا دي چې هنري ارزښت او شعريت يې له واريه څرګند دی:

اوربل دې اړولی پاني پاني

اوس پرې درتوی شي لکه زاني

پرون دا وخت د سيند ميلې ته تللې وې

نن مو نظر بنده کېښنولې يې

د سلايي لاره مو جوره په تندی کړله

د پلانکی ناوې مو جوړه کاغذي کړله

ناوې تيګ نيسه تندی پرې درغې سپرغی

که يو وارې يې در خلاص کړ بيا نه نشي تورپيکی

باران اوري ترخې څاڅې

موږ داسې ناوې راوړه له نوکانو يې زر څاڅې

په کنځاکيو کې د بيلا بيلو سيمو د ښو او بدو دودنو يادونه کيږي. د ناوړو دودونو پلې کول په کنځاکيو کې د پيغور په توګه بيانيږي چې مثبت پيغامونه او مثبتې پايلې لري.

د بېلګې په توګه د خسر کورته درسېدلو په وخت ناوې په دغو کنځاکيو ځورل کيږي:

ښه شوې چې تر شنو ونو مو تېره کړې

پلار دې په ولور شو ته هېره کړې

د سحر سترګو ناري کړې چې وی وی د خوبه يم

ناوې مور ته دې وايه چې وی وی ورکه دې کړم

ولور دې په لکو لکو تولېږي

اوس به سور کور رامالومېږي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ناوې ورک دې شه خېرن خېرن تربرونه

اوس به راښکاره شي ستا خيالي خيالي ليورونه

په فولکوريکو ادبياتو کې کنځاکې د ښادۍ د سندرو په نوم نومول شوي دي او د غه فورم يې د ښادۍ د نورو فورمونو څخه نه دی بېل کړی خو که د ښادۍ سندرو ته پام وکړو د ډولونو له مخې بيلا بيل فورمونه او محتوا لري. ښه به دا وي چې په دغه برخه کې په راتلونکي څېړنو کې غور وشي او ښادۍ سندرې د فورم له او محتوا له اړخه هم په جلا توګه وڅېړل شي نو غوره به وي ځکه کنځاکې ځانته فورم دي او د محتوا له پلوه هم د ښادۍ له نوورو سندرو سره توپير لري. دا سمه ده چې کنځاکې يو دود دی او په په ودونو کې د ساعتري لپاره ويلې کېږي خو په ژبه کې د يوه اصيلې پا نګې په توګه دې ومنل شي او د محتوا له مخې دې يوه منا سب نوم ورته وغوره شي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ